## مطبوعاتي اعلامیه

# د پاکستان له زده کوونکو ناوړه ګټنه به د خلافت د قضايي او ټولنيز نظام تر سيوري لاندې پای ته ورسېږي

د ۲۰۲۰م، د جون په ۳۰مه په لاهور ښار کې یوه خصوصي ښوونځي خپل کارکوونکي - چې پر ډېرو ښځينه زده کوونکو يې جنسي تېری کړی و- له دندې ګوښه کړل. دا مساله اوس یوازې په ټولیزه توګه له زده کوونکو څخه ناوړه ګټنه بلل کېږي. که څه هم ډېری ښوونکي نیک خلک دي، خو په پاکستان کې اوسنی د زده کړو بهیر فساد او له زده کوونکو ناوړه ګټنې ته لار هواروي. د شکایاتو لپاره د اغېزمن سیسټم نشت او همدارنګه د کمزورو اشخاصو اغېزمنتیا هغه څه دي چې خلک يې له خطر سره مخ کړي دي. د زده کړې له چاپېریال څخه بهر د قضايي قوې نشت او نه مصونیت د دې لامل شوی چې خلک له اوږدې مودې دغه ډول ناخوالې وزغمي. ځکه چې له څو کلونو راهیسې داسې پېښې اورېدل کېږي. په دې توګه، په تعلیمي ادارو کې د اداري فساد او د قضايي قوې د ستونزو د مخنیوي لپاره، قربانیان غلي کېږي او ظلم دوام مومي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

اسلام نه یوازې د ناوړه ګټه اخیستونکو د جرمنو سزا ورکوي، بلکې په لومړي ځای کې د ناوړه ګټه اخیستنې احتمال کموي. اسلام خلک له قوانینو سره سمې حیا ته هڅوي او په هغه ځای کې چې فساد تر سره کېږي هغه ته د پای ټکی ږدي. په داسې حال کې چې جنسي ځورونه په ټوله نړۍ کې ستونزه بلل کېږي، په خلافت دولت کې د نارینه او ښځینه وو تر منځ ازاد تګ راتګ ته اجازه نه ورکول کېږي، ځکه چې اسلام په اصل کې د نارینه او ښځینه وو صفونه بېل کړي دي. نارینه او ښځینه کولای شي د یوې موخې لپاره د اسلامي اوصولو د مراعاتولو په صورت کې راټول شي، هغه که رسمي ناستې وي، خصوصي. اسلام د ښځې او سړي خلوط منع کوي، څو د هغوی تر منځ د ناوړه او عاشقانه اړیکو مخه ونیول شي. سربېره پر دې په اسلام کې ښځه عزت ده، چې باید ساتنه ترې وشي، نه دا چې د سړي د خوند لپاره استثمار شي.

د خلافت بېرته راتګ به د غربي لیبرال فاسد هغو ارزښتونو ته د پای ټکی کېږدي، چې زموږ پر ټولنه تحمیل شوي او په کورنیو ارزښتونو کې يې اوږدې ریښې ځغلولي دي. ټولنیزې ستونزې يې رامنځته کړي دي او په غربي ټولنو کې ورځ تر بلې پراخېږي. د خلافت تعلیمي نصاب او د رسنیو تګلاره به ټولنه پیاوړې کړي، چې د الله سبحانه وتعالی رضا پکې نغښتل شوې وي او د ټولو اعمالو لپاره د قران او سنتو پیروي وکړي، د پرهېزګارۍ چاپېریال رامنځته کوي، چې د ګناه پر وړاندې ساتنه وکړي.

له دې ټولو وروسته، که بیا هم ناوړه ګټه پورته شي، نو دغه ناوړه ګټنه بیا د تعزیر تر قانون لاندې راځي، چې عزت او عقل ته زیان رسېدل پکې شامل دي. د تعزیر مجازات په هغو قضیو کې شامل دي چې له حیا سره مطابقت نه لري او همداراز سپکاوی، وېرول، اړ ایستل او یا هم رواني شکنجه وي. سربېره پر دې، هغه وخت چې د الله سبحانه وتعالی احکام پلي کېدل، د خلافت د قضاییه قوې د عدالت پلي کول په ګړندیتوب کې مشهور و.

یوازې د نبوت پر منهج د خلافت بیا تاسیس به د نارینه او ښځینه وو تر منځ متقابل درناوی او په نېکو کارونو کې د دوی همکارۍ ته لاره هواره کړي، تر څو یوه پیاوړې، با ثباته او عادلانه ټولنه جوړه کړي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾**[توبه: ۷۱]

***ژباړه:*** *«مومنان نارینه او مومنانې ښځې، دا ټول د یو بل دوستان دي. په ښو چارو امر او له بدیو څخه منع کوي، لمانځونه قایموي، زکات ورکوي او د الله سبحانه وتعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي کوي. دا هغه کسان دي چې د الله سبحانه و تعالی رحمت ورباندې نازلیږي، بېشکه الله سبحانه وتعالی پر ټولو برلاسی او د حکمت څښتن دی.»*

**د حزب التحریر۔ ولایه پاکستان د ښځو برخې مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق ، د ذي القعدې ۱۵مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ٦مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۷٦**